میرویس چکنوری
۲۰۱۷/۰۶/۰۲

# سید جمال الدین افغان

## د وخت ستر داعي



دې دره کې وایه دغه در د چا دی؟ — پدې کور کې نو مولود پسر د چا دی؟

په ورو ورو بهر ته وواته ماشوم دی — اکثر ژواک و ژوند بېرون، بهر د چادی

مقیم نه شو په حضرکې مو ونه لید — مسلسل او دوامدار سفـر د چا دی

د ملکونو پرواز کاندي ستړی ندی — دا سریعُ الحـرکت وزر د چا دی

مـتقـي او بـا وقـــار او زړور دی — دا سنګین او محترم پیکر د چا دی

په بیان یـې بنورېـدل غلام قومونه — په تقرېر کې دغه شان اسر (۱) د چا دی

د ښکېلاك زېلی یې غوځې کړلې ډېرې — دا قوي لاس او تېره تبر د چا دی

د دعوت د تورې شرنګ یې په هر لورې — دا سرباز او دا جانباز عسکر د چا دی

---

۱- اسر = طاقت



ارسال مقالات:
info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

بې نیاز له امیرانو دا فقیر دی | په ختیځ کې دومره لوی لښکر د چا دی

له مغربه، مشرق سر ښنګه که پورته | د مشرق سرجګونکی سر د چا دی

دې مېوه باندې دعوه ده د ملکونو | دغه خوږ او خوندور ثمر د چا دی

هر یو وایي دغه لعل دی زمونږه | دا نایابه بېش بها ګوهر د چا دی

چې ګلان یې استشمام له خوشبو کاندي | دا عجیبه معّطر عنبر د چا دی

چې د مینې حرارت یې شته تر اوسه | په سینو کې لا باقي اخګر د چا دی

عاشق نه مني معشوق لره شریك څوك | دومره ډېرو لره یو دلبر د چا دی

چې را جمع نیم جهان یې که وحدت ته | جمعیت را ټول په لوی ټغر د چا دی

تَوَ کّل یې بې مثال و خپل زمان کې | داسې پوخ ایمان، یقین، باور د چا دی

چې ښښتن د فراست او بصیرت دی | دا دوربین او ذره بین نظر چا دی

څوکه بره یې له وریځو آسمان سا دی | دا د علم دنګ جبل او غر د چا دی

د مخلوق په درد یې زړه ټپي ټپي دی | د عَاَلم له غمه ډك ځیګر د چا دی

تور او سپین، عرب، عجم په ژړا سر دي | د وفات دغسې دروند خبر د چا دی

 

د کابل د پوهنتون خوا کې چې پروت دی

ځمکې ستا بطن کې دا بشر د چا دی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

نومیالی موصوف چه فخر د خاور دی
تَـعَرُف یې دلتـه لـنډ او مختصر دی

شـجـره یـې د نسب اولی اعلی ده
دا لـمسي د فاطمې او د حیدر دی

د امــامُ الاَنّبیاء د ونــې ښــاخ دی
د نامدار والد صاحب، نوم یې صفدر دی

دغه ستر داعي «سیّد جمال الدین» دی
په هیبت لدې افغان، دوخت قیصر دی

زما مینې هم دا توري بهانه کړل
ګنې کله پټ، پناه له چا نه لمر دی

ما میرویس دغه څو کرښې ولیکلې
د پوهـانـو په سینو کې یې دفتر دی

** * **


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com